


# په کم لګښت سره سفر وکړئ

**له کمښت لرونکي کرايې سره تر 72% پورې سپما وکړئ**
**که چېرې تاسو د عاید پر بنسټ وړ وګڼل شئ.**

## څه ډول وړ شئ

ستاسو د کورنۍ عاید باید د مالیاتو له کسر څخه وړاندې د فدرال د فقر د کچې له 200% څخه کم وي. همداراز تاسو باید د Oregon له 18-64 پورې عمر لرونکی استوګن وئ.

### که چېرې تاسو په لاندې پروګرامونو کې ګډون وکړئ، نو په خپل کاره توګه په شرایطو برابرېږئ:

- د Oregon د روغتیا پلان/ میډیکیډ (Oregon Health Plan/Medicaid (OHP))
- د بشپړونکي تغذيې مرستندوی پروګرام (Supplemental Nutrition Assistance Program (SNAP))
- د انرژۍ مرسته (Energy Assistance (LIHEAP, OEAP, WAP))
- وړيا او کم لګښت لرونکي غرمنۍ (Free & Reduced Lunch)
- د ښځو، کوچنیانو او ماشومانو پروګرام (Women Infants and Children (WIC))
- د اړمنو کورنیو لپاره لنډمهاله مرسته (Temporary Assistance for Needy Families (TANF))
- د دندې اړوند د ورځې پاملرنه (Employment Daycare (ERD))
- د HUD مرسته (HUD Assistance)

## څه ډول غوښتنلیک واستوو

د عاید اثباتیه اسناد (د ګټو د ورکولو لیک، د عاید اسناد یا د مرستې په یوه پروګرام کې اوسنۍ نوملیکنه) او د حکومت لخوا صادره شوې انځور لرونکې ای ډي له ځان سره چمتو ولرئ.

### په آنلاین ډول

**trimet.org/save** ته مراجعه وکړئ او "How to apply".

### په حضوري ډول

زموږ د Pioneer Square موقعیت ته مراجعه وکړئ, یا **trimet.org/save** پټې ته په مراجعه کولو سره د همکار یو بل موقعیت ومومئ.

## نورې مرستې ته اړتیا لرئ؟

- کیدای شي سیمه ییز سازمانونه وکولای شي د کرایې د لګښتونو په اړه زیاته مرسته وړاندې کړي. د لا زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره **trimet.org/farepartners** ته مراجعه وکړئ.
- په شرایطو د برابرېدو یا ستاسو د غوښتنلیک په اړه د پوښتنو لپاره، له **503-238-7433 (RIDE)** سره اړیکه ونیسئ **transitassistance@trimet.org** ته برېښنالیک واستوئ.

TRIMET
How life moves®

د غوښتنلیک استولو لپاره،
**trimet.org/save**

230361 • 2500 • 12/23